پرمختللی معارف - روښانه راتلونکې
معارف برتر - آینده بهتر

# معارف

اوونیزه
هفته نامه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۴۷ ماه ثور سال ۱۳۹۸

سرمقاله:

## معارف پایه و اساس پیشرفت و ترقی یک کشور است

معارف ستون پیشرفت و ترقی یک کشور بحساب میرود و دسترسی متوازن افراد و اقشار یک جامعه به ضروریات اولیه آموزش از جمله اولویت های است که نهاد معارف به آن متعهد میباشد. پیشرفت نظام آموزشی متکی به چند اصل است: اول سهم فعال اقشار کشور که بدون شک همکاری آنها ما را به آینده درخشان نظام آموزشی امیدوار میسازد، داشتن معلمان مسلکی که در جهت رسیدن به این هدف بیشتر ار هر چیز دیگر ما را کمک و همکاری میکند، داشتن کتاب و مواد ممد درسی رکن اساسی دیگری است که از روند کند تدریس جلوگیری کرده و مارا بسوی داشتن یک نظام آموزشی پایدار سوق میدهد و همچنان داشتن محیط وماحول مصؤن تعلیمی که سعی و تلاش ما را برای رسیدن به این هدف والای مان به موفقیت میرساند با در نظر داشت این چهار اصل میتوان پایه های یک نظام معارف را محکم و استوار نگهداشت که خوشبختانه معارف ما با همین اساس پایه گذاری شده است. روند چاپ و توزیع کتاب به سرعت هر چه تمامتر ادامه داشته، در جذب استادان مسلکی کوشش های صورت گرفته و عملاً آن عده از استادان که سویه تعلیمی شان تا بکلوریا یا چهارده پاس است جهت بلندبردن سویه تحصیلی شان در دارالمعلیمن های داخل...

ص ۲

## گشایش دو باب مکتب مسدود شده در ولایت دایکندی

دو باب مکتب در ولسوالی پاتو ولایت دایکندی که مدتی چند نسبت مشکلات امنیتی مسدود گردیده بود، اینک به اثر سعی وتلاش مسوولین ریاست معارف، شورای اداری مکاتب در همکاری با بزرگان قومی وعلمای کرام ولایت یاد شده دوباره باز گشایی گردید. اهالی وشورای اداری مکاتب مذکور به ریاست معارف آنولایت ضمن تعهد بازگشایی مکاتب بسته وعده سپردندکه در راستای بهبود وضعیت معارف و تربیت نسل جوان از هیچ گونه سعی و تلاش دریغ نخواهد ورزید.
با باز گشایی مجدد مکاتب زمینه آموزش برای اضافه از ۳۰۰ تن اطفال فراهم گردیده که ریاست معارف ولایت دایکندی از همکاری اهالی شریف ولسوالی پاتو این ولایت اظهار خرسندی نمودند.
شایان ذکر است که درولسوالی پاتو ۴۸ باب مکتب ویک باب مدرسه فعال می باشند، که به تعداد۱۰۲۲۶ تن شاگرد که از جمله ۴۲۱۱ تن آنرا دختران تشکیل میدهد مصروف آموزش هستند.

## د پروان ولایت د شینواري ولسوالۍ د پوهنې آمریت د ودانۍ د بنسټ دبړه کیښودل شوه

د پروان ولایت د شینواري ولسوالۍ د پوهنې آمریت د نوې ودانۍ د بنسټ دبړه دنومړې ولایت دپوهنې ریاست دمسوولینو لخوا په داسې حا ل کې چې دسیمې قومي مشرانوسپین ږیرو او علماوو ګډون درلود کیښودل شوه.
نومړې ودانۍ په پاخه او اساسي ډول په دوو پوړنوکې د شا خوا ۷ میلیونو افغانیو په مجموعي لګښت د پوهنې وزارت د پرمختیایي بودجې څخه د ۸ میاشتو په موده کې جوړیږې، چې ۷ اداري خونې ، د اوبو څښلو څاه، سولر سیستم داحاطې دیوال، ۵ تشنابونه او نورې اړینې ښوونیزې آسانتیاوې به ولري .

## تاکید افغانستان و سویدن بر همکاری های دوجانبه در راستای بهبود وضعیت آموزشی اطفال کشور



دکتر محمد میرویس بلخی وزیر معارف و توبیاس تایبرگ سفیر سویدن در افغانستان در دیداری دوجانبه به هدف تقویت روابط برای بهبود وضعیت آموزشی اطفال در سراسر کشور صحبت و گفتگو کردند.در این دیدار دکتر بلخی ضمن قدردانی از حمایت‌های سویدن در راستای انکشاف تعلیم و تربیه در افغانستان، بر تمرکز جدی رهبری وزارت برای مدیریت حمایت‌های بین‌المللی از معارف در سراسر کشور تاکید کرد.
وزیر معارف عنوان کرد که وزارت معارف از تمرکز بیش از حد روی وضعیت معارف مرکز به نتیجه مثبت نخواهد رسید به همین علت توجه به ولایات و مناطق دوردست از مهم‌ترین برنامه‌های وزارت در راستای ایجاد زمینه دسترسی متوازن اطفال به خدمات تعلیمی است.
توبیاس تایبرگ سفیر سویدن در افغانستان نیز در جریان این دیدار ضمن استقبال از توجه رهبری وزارت معارف به توسعه تعلیم و تربیه به شکل متوازن در سراسر کشور، از تعهد سویدن برای حمایت بیشتر از معارف در این راستا خبر داد.وزیر معارف و سفیر سویدن در افغانستان همچنین در رابطه با میزان تطبیق برنامه‌های مشترک قبلی نظیر حمایت از تعلیم دختران و برنامه تعلیم منتظر نمی‌ماند، بحث و گفتگو کردند.

## په کندهار کې د ۷ ښوونځیو لپاره د ودانیو د جوړیدو چارې پیل شوې



دکندهار ولایت په ارغنداب ولسوالۍ کې د اقرا برنامې په چوکاټ کې د ( ۷) بابو ښوونځیو د پاره د نویو ودانیو د بنسټ ډبرې کېښېښودل شوې .
هغه مراسم چې په همدې موخه په ارغنداب ولسوالۍ کې جوړ شوي وه د کندهار د مرستیال والي عبدالحنان منیب ترخنګ د پوهنې رئیس عبدالقادر پیوستون، د یو شمیر ملکي ادارو رئیسانو، د ولسي تړون د پروګرام استازو، د ارغنداب ولسوالۍ مسؤلینو او قومي مشرانو دیني عالمانو او ځوانانو ګډون کړی و.
په هغه غونډه کې چې له همدې امله جوړه شوي وه د پوهنې رییس عبدالقادر پیوستون وویل: یادي (۷) بابه ښوونځی به د ارغنداب ولسوالي د شا تورو

ص ۲

## وزارت معارف و بنیاد زنان رضاکار افغان تفاهمنامه همکاری امضا کردند



## دکتر بلخی بر پیگیری و حل مشکلات معارف ولایت تخار تعهد سپرد



## په خوست کې د ۱۳ ښوونځیو لپاره د ودانیو د جوړیدو چارې پیل شوې



## تخار کې د یو منځني ښوونځي د جوړېدو چارې پیل شوې

د تخار ولایت د مرکز اړوند د بي بي ساره منځني ښوونځي د ودانۍ دبنسټ ډبره د یو لړ مراسمو په ترڅ کې کېښودل شوه. په دغو مراسمو کې د تخار والی عبدالحق شفق ، دپوهنې رئیس، د دولتي ادارو یو شمیرمسوولینو، قومي مشرانو، ښوونکو او زده کوونکو ګډون کړی وو.
د نومړي ښوونځي ودانۍ په پاخه او اساسي ډول د ۱۶ میلیونو افغانیو په مجموعي لګښت د یو کاَل په موده کې جوړیږي، چې ۱۴ درسي ټولګي، ۴ اداري خونې، احاطې دېواَل، عصري تشنابونه او نورې اړینې اسانتیاوې به ولري.
د یادولو وړ ده، چې د ښوونځي د نوې ودانۍ له جوړېدو او پرانېستو سره به د یادې سیمې سلګونو زده کوونکو ته د زده کړو خوندي درسي چاپېریال برابر شي.

## سرمقاله:

## معارف پایه و اساس...

خدمت وپوهنتون ها تنظیم گردیده اند. در قسمت ساخت مکاتب با شرکت های خصوصی قرار داد های اعمار مکاتب به امضا رسیده است. و در هر مقطع زمان هموطنان ما شاهد افتتاح چندین تعمیر مکتب اند ولی آنچه همه این فعالیت ها را تحقق می بخشد و به کرسی عمل می نشاند همانا کمک و همکاری والدین عزیز با مکتب و مداخله کارا آنان در پروسه تعلیم و تربیت اولادشان هست. والدین مسؤول درجه یک اند تا اطفال شان بخصوص دختران را تشویق نموده تا به مکتب بروند و در قسمت حل مشکلات شان وقتاً فوقتاً با اداره مکتب در تماس باشند. رهبری وزارت معارف نیز تلاش می ورزد تا مصدر خدمات شایسته برای هموطنان عزیز گردند. سفر های سر پرست وزارت معارف به ولایات کشور، تدویر جلسات با روسای معارف جهت دریافت ارتقای سطح معارف در ولایات رسیده گی به مشکلات معارف ولایات مؤید این حقیقت است که در وزارت معارف آنچه در توان دارد و میگوید در عمل تطبیق مینماید و برای یک معارف شگوفان و در یک کلمه برای بدست آوردن آرزو های دیرینه مردم مان مبنی بر ایجاد یک کشور مترقی و انکشاف یافته و خود کفا از هیچ گونه سعی و تلاش دریغ نمی ورزد.

بقیه صفحه اول

## په کندهار کې د ۷ ښوونځیو...

خانه ګرداب، ده سبز، حاجیانو کلا، وکیل کلا، چهارقلبه، سفلی او ارهډ په کلیو کې د ښار او ځمکو وزارت لخوا د اقرا برنامی په مالی مرسته جوړې شي چې له مخې به يې (۲۷۰۰) تنو ماشومانو ته سالم زده کړيز چاپيريال رامځته شي . پيوستون د سيمې د مشرانو او ځوانانو څخه غوښتنه وکړل ترڅو د يادو ساختمانی چارو څه د څارني ترڅنګ ورسره بشپړه همکاري وکړي او هم دي يې په ساتنه کې خپلې هڅې دريغ نکړي دغه راز يې د سيمې د مشرانوڅخه غوښتنه وکړل ترڅو خپل هغه ماشومان چې د زده کړې د لوی نعمت څخه بې برخې دي ښوونځيو ته واستوي .

## سنگ تهداب تعمیر یک باب مکتب در ولایت غزنی گذاشته شد

سنگ تهداب مکتب ابتدایه حضرت ابوالفضل شهرک نو آباد مربوط مرکز ولایت غزنی توسط مسوولین ریاست معارف آن ولایت در حالیکه تعدادی از متنفذین قومی، استادان وشاگردان حضور داشتند به زمین گذاشته شد. تعمیر مکتب متذکره به صورت پخته واساسی به قیمت مجموعی بیش از هشت میلیون افغانی از طرف برنامه میثاق شهروندی اعمار می گردد، که دارای دوازده صنف درسی ، دو اتاق اداری، ۵ مبرز، چاه آب آشامیدنی وسایر ملحقات ضروری آن میباشد، که با اعمار تعمیر متذکره مشکل بیش از یکهزار شاگرد از نبود صنوف درسی مرفوع خواهد گردید.

## دایچوپان ولسوالۍ کې ترلې شپږ ښوونځي پرانېستل شول

د زابل ولايت په دايچوپان ولسوالۍ کې له تېرو ۱۸ کلونو راهيسې د ترلېو شپږ بابه ښوونځيو دروازې بېرته د زده کوونکو پرمخ پرانېستل شوې. دغه ښوونځي د زابل د پوهنې رياست او د سيمې قومي مشرانو په هلو ځلو بيرته پرانيستل شوي دي.

د ياد ولايت د پوهنې رييس نصرالله زاهد وايي، چې د سيمې د اوسېدونکو په هلو ځلو او غوښتنو يې ددغو ښوونځيو بيا پرانېستو ته زمينه برابره کړې او هيله ښيي، چې له پرانېستو سره به يې له ښوونځي محرومو سلګونو زده کوونکو ته د زده کړو آسانتياوې برابرې شي.

ښاغلی زاهد زياتوي، چې پوهنې رياست هڅه کوي د يادو ښوونځيو زده کوونکو ته درسي کتابونه، قرطاسيه او نورو درسي توکي هم برابر کړي، څو وکولای شي په ښه توګه خپلو زده کړو ته دوام ورکړي .

د دايچوپان اوسېدونکو هم په دې تړاو جوړو شويو مراسمو کې د ښوونځيو له بيا پرانېستو خوښي وښوده او ژمنه يې وکړه، چې د خپلو اولادونو د ښې راتلونکې لپاره به د معارف په وده او پياوړتيا کې هيڅ ډول هڅې ونه سمپوي.

## د هرات ولایت د تو بریان لیسې نوي ودانۍ پرانیستل شوه

دهرات ولایت د انجیل ولسوالي د توبریان لیسې نوي ودانۍ پرانیستل شوه.

په هغه غونډه کې چې له همدې امله دنوموړې لیسې په انګړ کې جوړه شوې وه دپوهنې رئیس روح الله ازهد، د دولتي ادارو یو شمیر رئیسانو، دسیمې قومي مشرانو، استادانو اوشاګردانو ګډون کړی وو.

د توبریان لیسې نوي ودانۍ په پاخه او اساسي ډول په یوه پوړکې د څه باندې ۳ میلیونو افغانیو په مجموعي لګښت NRC موسسې په مالي مرسته جوړه شوې، چې ۵ درسي ټولګي او نور ضروري ملحقات لري.




د یادولو ده، چې په دغه ښوونځۍ کې ۱۵۰۰ تنه نجونې او هلکان زده کوونکي په دریو وختونو کې په زده کړو بوخت دي، چې دیادې ودانۍ د پرانیستلو سره به زده کوونکوته خوندي درسي چاپېریال برابر شي.

## د لوګر د ښوونکو او زده کوونکو د وړتیا لوړولو هوکړه لیک لاسلیک شو

د لوګر د پوهنې ریاست د خپلو ښوونکو د تحصیلي کچې د لوړولو او د زده کوونکو د وړتیا لوړونې هوکړه لیک لاسلیک کړ.

دغه هوکړه لیک د پوهنې رئیس عبدالوکیل کلیوال او د لوړو زده کړو رئیس محمد ناصر ستانکزي تر منځ لاسلیک شو.

د یاد هوکړه لیک د لاسلیکېدو موخه د لوګر د پوهنې بهیر او دغه راز د لوړو زده کړو بهیر ته په ګډه وده ورکول دي.

د ښوونکو د تحصیلي کچې لوړول، د ښوونځیو زده کوونکو ته د روزنیزو پروګرامونوجوړول او د ښوونې او روزنې محصلینو ته په ښوونځیو کې د عملي زده کړو د زمینې برابرول د یاد هوکړه لیک هغه مهمې دي، چې دواړه خواوې به په دغو برخو کې له یو بل سره همکاري وکړي.

د لوګر د پوهنې رئیس عبدالوکیل کلیوال ل یاد هوکړه لیک مهم وباله او زیاته یې کړه، چې دغه هوکړه لیک د



ښوونکو او زده کوونکو د وړتیاوو لوړولو لپاره ښه روزنیز پروګرامونه لري.

د پوهنې رئیس زیاته کړه، چې په دې هوکړه لیک سره به د ښوونځیو په تدریسي کیفیت کې لوړوالی رامنځته شي او له امله به یې د ښوونکو او زده کوونکو تحصیلي وړتیاوې لوړې شي.

د لوګر د لوړو زده کړو رئیس محمد ناصر ستانکزی وایي، چې د یاد هوکړه لیک موخه د ښوونځیو ښوونکو د تحصیلي کچې لوړول، زده کوونکو ته د روزنیزو پرګرامونو جوړول او هم په ښوونځیو کې د ښوونې او روزنې محصلینو لپاره د عملي تدریس زمینې برابرول دي.

د یادونې وړده،چې د لوګر د پوهنې ریاست په تېرو کلونو کې هم د خپلو ښوونکو او زده کوونکو د وړتیا لوړولو په برخه کې پراخې هلې ځلې کړي.

## ننګرهار کې ساینس مرکز ته نوي ودانۍ جوړه شوه

د ننګرهار ولایت پوهنې ریاست کې د نږدې ۲۲ میلیونه افغانیو په لګښت د ساینس ودانۍ ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه .

د ننګرهار والي شاه محمود میاخیل دیاد مرکز د ودانۍ پرانیستې په تړاو جوړو شویومراسمو کې وویل، چې د ساینس مرکز ودانۍ، د نږدی ۲۲ میلیونه افغانیو په مالي لګښت د څوارلس میاشتو په موده کې په پنځه سوه شپږ اویا متره مربع سیمه کې دښار جوړونې وزارت په تخنیکي همکاری په دریو پوړنو کې جوړه شوې ده، چې ۲۲ خونې، ۶ تشنابونه او نورې اړوندې ټولې ښوونیزې آسانتیاوې لرې.

نوموړې زیاته کړه، چې د عملي زده کړو په موخه د ساینس مرکز ته ډیره اړتیا وه هغه له ښوونکو او زده کوونکو وغوښتل، ترڅو د ساینس مرکز څخه د عملي تجربو او زده کړو ترسره کولو په موخه ګټه واخلي .

په هغه مراسمو کې چې د پوهنې ریاست په انګړ کې جوړه شوې وه ، دننګرهار والي شاه محمود میاخیل،ولایتي شورا منشي حمیرا رفیع،د شورا غړي استاد اسرارالله مراد،د پوهنې رئیس حسیب الله شینواري،د ښار جوړونې رئیس انجینر عبدالباسط ساحل او یو شمیر نورو مسؤلینو ګډون درلود.

# پسرلیه

راوړه پسرلیه دګولونو هار له ځان سره
باران دسروغمیودیاقوتواو مرجان سره
زما د امیدونو دښتې غرونه مړاوي شوي دي
راوړه څاڅکي څاڅکي درحمت باران له ځان سره
مايې دحجران ژمي ساړه تیرکړي دي
راوړه دوصال زیری قاصده له کاروان سره
په سرواوشنوټکریوبیاد "جرچینه" رنګینه کړه
ماره کړه په دیدار یو ځلې بیادوه مینان سره
ډلې به شي جوړېدې خوبانو شنو باغوپه لور
یوځای به شي نازونه دخوبانوسره ګلان سره
کله چه دسروګلوقطارپه اوربل جوړسی
شمال به ورته جوړکړي دسرټیك د سره پیزوان سره
راوړه پسرلیه د ګلونو هار له ځان سره
باران د سرو غمیو دیاقوتو او مرجان سره

ارسالي: نجیبه

## غزل

لکه چې ګل منځ د اغز یو کې اوسي
د ژوند راحت په تکلیفوو کې اوسي
اغزي چې ډ یر وي څانګي ښکلې ښکاري
صد برګ ګلان داسې شاخچو کې اوسي
که راحت غواړې نو زحمت اوباسې
ښایستهٔ غمي په لویو غرو کې اوسي
چې دي خرما اوهم ثواب شي نصیب
د زړو ارام نیکو کارو کې اوسي
ژوند په عزت او په حرمت مزه کا
عزت د علم د رجو کښي اوسي
ځوانا نو لږ کو شش د علم وکړې
علم د پوهی مرکزو کې اوسي
بی له تعلیمه ژوند مشکله ښکاري
لکه ما هیان چې تل اوبو کې اوسي

رالیږونکی: آمنه

## غزل

نن مې تر سترګو اوښکې اوښکې کاینات ښکاري
آینه روغه ده تصویر مې پکښې مات ښکاري
موږ خوشباوره یو اوس زهر راته شات ښکاري
له ژونده تښتو او مرګی راته نجات ښکاري
نن بیا پر ځمکه لکه غر یو سړی کم ښکاري
نن پر اسمان یو ځلیدونکی ستوری زیات ښکاري
تا له خپل زړه د پاچایانو خزانه جوړه کړه
خو زما زړه درته د ټول کلي خیرات ښکاري
نړۍ! زما په بده ورځ پسې دې ولې خندل؟
ازار مې وینې چې بې سوره دي حالات ښکاري؟
د حلمیار رقیب به اور واخلي ایرې به شي
په اسویلو کې یې بځرکي د کسات ښکاري

رالیږونکی: حسینه

# بزرگ‌ترین ریاضیدان جهان

**فیثاغورث:**

فیثاغورث یکی از بزرگ ترین فیلسوفان و ریاضی‌دان‌های یونانی بوده است. او در سال های۵۶۹-۵۰۰ پیش از میلاد مسیح زندگی می کرد و نخستین کسی بود که توانست اصول پراکنده‌ای را که ریاضیدانان نخستین کشف کرده بودند، بر پایه اصول قیاسی بنا کند. فیثاغورث از جمله فیلسوفانی است که موجب پیشرفت زیاد ریاضی شد. او کاشف قضیه فیثاغورث است. قضیه فیثاغورث در هندسه، بخشی از صورت کلی قانون کسینوس‌ها در زمانی است که زاویه بین دو خط ۹۰ درجه است. به عبارت دیگر، در یک مثلث قائم الزاویه همواره مجموع توان‌های دوم دو ضلع برابر با توان دوم ضلع سوم است البته برخی منابع شک دارند که این قضیه را خود فیثاغورث کشف کرده باشد و آن را یکی از شاگردان او نسبت می دهند که ۳۰۰ سال قبل در هند زندگی می کرده است. اما در نهایت، فیثاغورث را پدر ریاضی جدید می دانند و نام او در تاریخ ثبت شده است.

ریاضی و علم حساب پایه و اساس درک جهان هستی است و در دنیای مدرن نیز کاربرد بسیاری دارد. به همین دلیل، ریاضی‌دان‌های بزرگ جهان در پیشرفت علم نقش بسیار مهمی داشته اند و به همین دلیل نام آنها به نیکی در تاریخ ثبت شده است .

ارسالي: عزیر

# هم خرما او هم ثواب

نوی ښوونیز کال په نوي او مثبت فکر سره پیلول د نوي نسل د بقا او پایښت لامل کېدای شي، په دې برخه کې هر یو ځانګړې ونډه لري؛ ځکه ښوونه او روزنه یواځې په ما او تا نه؛ بلکې په هر یوه پورې اړه لري؛ خو ترټولو ستره ونډه په کې بیا ښوونکي لري، ځکه د ماشومانو، تنکیو او ځوانانو نیمه ورځ له ښوونکو سره تیریږي، د هغوی ناکامي د ښوونکو ناکامي ده، او د زده کوونکو بریالیتوب د دوی بریالیتوب دی، ځکه خو باید هغه کار مو چې په تیر کې ترسره کړی وي د بیا او بیا ځلې په ترسره کولو سره به نویو پایلو ته ونه رسیږو، ځکه بریالیتوب د هغه چا حق دی چې له خپل تېر څخه یې زده کړه کړې وي، نو د بریالیتوب په هیله او تر تېر کال څخه د لابریا د ترلاسه کولو په موخه د ټولو عامو او خاصو یا مسؤلو اشخاصو په ځانګړې توګه د ښوونکو دنده داده؛ ترڅو شته نسل د اوس سره سره راتلونکي ته چمتو کړي، کله چې په دې برخه کې په سنجول شوي ډول هوډ ونیسو فکرونه به بدلون ومومي، ځکه هیڅ حالت او هیڅ څه به بدلون ونه کړي؛ ترڅو په خپله موږ بدلون ونه کړو، ځکه نوی نسل ورځ تر بلې پرمختګ کوي او له انټرنټ او نوې ټکنالوژۍ سره آشنا دي، هسې خبره نه ده؛ د اطلاعاتو د انفجار وخت ورته ویل شوی، راځئ چې په خپل مثبت فکر سره ددې نوي ښوونیز کال د پیل له بېلابېلو رنګونو څخه خپل د فکر څېره رنګینه کړو داسې چې زده کوونکو ته لاره د خپلې پوهې په بله کړې ډیوې سره روښانه کړو، نن به دوی په خپله لاره روان کړو او ددوی ترڅنګ البته د دوی د پل ترڅنګ خپل پل کښیږدو؛ ترڅو سبا ورځ مو لارې دوه نه شي، ځکه سبا ورځ همدغه نسل زموږ کوپو ملاګانو ته اعصا ده او نیغولای مو شي، که چېرې داسې وشي نو به هم خرما وي او هم ثواب، هم به مو نن ددې باتور هېواد باتوره بچي روزلي وي او هم به مو خپلو کورونو ته حلاله روزي وړې وي.

**عبدالخلیل محبوبی**

# واقعیت

ځوړند یم کاروان ته مې لاس نه رسي
ځمکې اسمان ته مې لاس نه رسي
تور ماښام کړ لیخ له تروږمی سره
دا د غم توپان ته مې لاس نه رسي
وران ټوټې ټوټي یم د پردو په لاس
دوه مخه انسان ته مې لاس نه رسي
نه پوهیږم ولې مې منزل څیړي
خپل رنګین ارمان ته مې لاس نه رسي
بخت مې د هندوانو د مؤمن[1] په څیر
کوم مذهب او توان ته مې لاس نه رسي
لاره رانه ورکه په کوم لور به ځم
هیڅ رنګه جهان ته مې لاس نه رسي
اوس د هیلو شمع بې ځلا مې شوه
خپل ګردن ګرېوان ته مې لاس نه رسي
ته مې (شاپیرۍ) د ژوند عبرت واخله
ها تللي لقمان ته مې لاس نه رسي

رالیږونکی: شاپیرۍ پښتنه سنګر

# فرجام

ای رفته براه کین فرجام چی خواهی کرد؟
جُز آن که شوی آخر بد نام چی خواهیکرد؟
از نیت شوم تو ما خانه بدو شانیم
با سوخته گان درد ای خام چی خواهی کرد؟
از ثروت و مال و زر نام ات نشود جاوید
آندم که شود پول ات اتمام چی خواهی کرد؟
شاید که روی بالا مانند الاغ از جهل
پایان نشوی آسان از بام چی خواهی کرد؟
از دور چو دهُل آید آوازه تو ام گاهی
از بوسه فرستادن ء باپیغام چی خواهی کرد؟
در سر که نباشد عقل بیهوده تلاشء هیچ است
دایم نبود با تو ایام چی خواهی کرد؟
دعوای خرد کردن خود مضهر نادانیست
با اهل ادب گردی همگام چی خواهی کرد؟

ارسالي: رساله

# صحرا

**اکنون که زمین شد ز بهاران همه گل**
**صحرا همه سبزه کوهساران همه گل**
**از فرقت توست در دل ما همه خار**
**وز طلعت تو به چشم یاران همه گل**

**دیدی که نسیم نوبهاری بوزید**
**ما را ز بهار ما نسیمی نرسید**
**دردا که چو گل پرده خلوت بدرید**
**آن گل‌رخ ما پرده نشینی بگزید**

ارسالي: حسیبا

Weekly Marif Newspaper

BETTER EDUCATION - BETTER FUTURE

Established 2002, Issue No 247, Month – May 2019

Ministry of Education Cultural and Social Issue



## وزارت معارف و بنیاد زنان رضاکار افغان تفاهمنامه همکاری امضا کردند

تفاهمنامه همکاری میان وزارت معارف و بنیاد زنان



رضاکار افغان به هدف فراهم آوری زمینه خدمات تعلیمی کیفی و معیاری امضا شد.

در جریان امضای این تفاهمنامه؛ دکتر "محمد میرویس بلخی" وزیر معارف کشور عنوان کرد که در چوکات این تفاهمنامه قرار است زمینه آموزش و پرورش با کیفیت و استندرد برای بیش از ۱۹۹۱ نفر از شاگردان دختر و پسر شماری از مکاتب ولایات و کابل فراهم شود.

وزیر معارف از اعمار ساختمان ۲۴ صنفی برای مکتب ابتدائیه شهرک صفا در کابل، استخدام بیش از ۷۰ نفر پرسنل اداری و تدریسی در "لیسه خزایی کندز"، "متوسطه دخترانه بویه زار ولایت کابل" و "ابتدائیه شهرک صفا" و همچنین فراهم آوری تجهیزات مورد ضرورت در مکاتب متذکره از جمله موارد مهم این تفاهمنامه می‌باشد.

گفتنی است بنیاد زنان رضاکار افغان (AVWA) که پیش از این نیز در راستای بهبود و انکشاف خدمات تعلیمی در مرکز و ولایات فعالیت داشته است.

## په خوست کې د ۱۳ ښوونځیو لپاره د ودانیو د جوړیدو چارې پیل شوې

د خوست ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې ۱۳ باب ښوونځیو ته نوې او عصري ودانۍ جوړیږي.



په هغه غونډه کې چې په همدې مناسبت د لکنوسرکیو بوړیو په ښوونځي کې جوړ شوي و، د پوهنې رئیس سربېره پکې د کلیو پراختیا رئیس ،په خوست ولایت کې د ولسي تړون پروګرام مسؤل، د سیمې قومي مشرانو، ځوانانو او ددې ښوونځي زده کوونکو ګډون کړی و. په یادو ۱۳ ښوونځیو۷۸.۲ میلیونه افغانۍ لګښت راځي، چې په باک، صبریو، دوه منده ، شمل، او په لکنو ولسوالیو کې موقعیت لري، چې د اقرا برانامې لخوا تطبیق کیږي. د خوست پوهنې رییس نصیر احمد روښان په خپله خبرو کې وویل: په خوست کې د جوړیدونکو ۶۳ ښوونځیو څخه د ۳۱ ښوونځیو د جوړیدو چارې عملاً روانې دي. د ۱۱۷ ښوونځیو پروپزل منظور شوی دی چې ډېر ژر به بودیجه ورته انتقال شي. همدا شان د ۱۷۸ ښوونځیو لیست برابر شویدی، چې ژر به پرې کار پیل کړي، هغه همدا راز له ولسونو وغوښتل چې ددې پروژو په نظارت کې ورسره همکاري وکړي. د پوهنې رییس زیاته کړه، چې د هرې ممکنې لارې هڅه کوي چې د ښوونځیو لپاره د ودانیو د جوړیدو امکانات پیدا کړي، ده په خپلو خبرو کې ډاډ ورکړ چې په کم وخت به د سرکیو بوړیو د هلکانو لیسې لپاره د درې پوړیزې ودانۍ د بنسټ ډبره هم کیږدي. د سیمې خلکو او د ښوونځیو زده کوونکو ددې پروژو د چارو په پیل کیدو خوښي و ښوده او زیاته یې کړه، چې په دې سره به ورته د کار سره د زده کړې لپاره مناسب چاپېریال برابر شي.

## دکتر بلخی بر پیگیری و حل مشکلات معارف ولایت تخار تعهد سپرد

دکتر محمد میرویس بلخی وزیر معارف در دیدار با تعدادی از مدیران مکاتب ولایت تخار بر پیگیری و حل مشکلات معارف ولایت تخار تعهد سپرد.

در این دیدار شماری از مدیران مکاتب تخار مشکلات معارف را با دکتر بلخی مطرح و خواستار پیگیری و حل آن شدند.

رهبری وزارت معارف در این جلسه ضمن استماع مشکلات موجود در معارف ولایت تخار وعده داد که نسبت به رفع این مشکلات پیگیری جدی صورت می‌گیرد.

در خاتمه این دیدار، مدیران



مکاتب تخار حاضر در جلسه از بهبود وضعیت معارف افغانستان یاد کرده و از فعالیت‌های وزیر معارف قدردانی کردند.

## حذف کامل ۵ هزار جلد کتب درسی نصاب تعلیمی پاکستان در پکتیکا

۵ هزار جلد کتب درسی نصاب تعلیمی پاکستان که در زمانی محدود میان مهاجرین پاکستانی پناه آورده به پکتیکا توزیع می‌شد؛ حذف و از بین برده شد. این تعداد کتب درسی نصاب تعلیمی پاکستان از طریق اداره جهانی یونیسف فقط برای مهاجرین پاکستانی که بر اثر جنگ به ولایت هم مرز(پکتیکا) در افغانستان پناه آورده بودند، چاپ شده بود.

لازم به ذکر بوده از میان این کتب؛ فقط تعداد بسیار اندک و در ساحه محدود ولسوالی برمل پکتیکا در سال ۹۴ توسط یونیسف در میان مهاجرین پاکستانی توزیع شده بود.

پس از آن؛ این کتب درسی نصاب تعلیمی پاکستان بلااستفاده در کانتینرها بوده که براساس همکاری میان مقامات ولایتی پکتیکا با ریاست معارف به تاریخ ۷ ثور این پنج هزار جلد کتب درسی در غرب پکتیکا در ساحه بند سرده از بین برده شد.

گفتنی است چندی پیش شایعاتی مبنی بر تدریس نصاب تعلیمی پاکستان در مکاتب پکتیکا مطرح شده بود اما این موضوع واقعیت نداشته و کتب درسی نصاب تعلیمی پاکستان از طریق یونیسف صرفا برای مهاجرین پاکستانی در یک مقطع زمانی مشخص به چاپ رسیده بود که در هفته اخیر تماما حذف و از بین برده شد.

## د لوګر په محمدآغي کې د نجونو تړلی ښوونځی بیا فعال شو

د لوګر د محمدآغې ولسوالۍ د سرخاب د نجونو تړل شوی ښوونځی بیرته د زده کوونکو پر مخ پرانیستل شو. یاد ښوونځی تېر کال د امنیتي ستونزو له کبله تړل شوی و، چې یو ځل بیا د پوهنې ریاست،دیني عالمانو او قومي مشرانو په هلو ځلو فعال شو. اوس مهال په دې ښوونځي کې له لومړي ټولګي تر نهم ټولګي شاوخوا ۲۱۵ نجونې زده کړې کوي او بیایې دا شمېره لوړه شي.

د لوګر د پوهنې رئیس عبدالوکیل کلیوال د یاد ښوونځي پر بیا فعالېدو خوښي څرګنده کړه او د سرخاب له اوسېدونکو څخه یې غوښتنه وکړه، چې خپلې لوڼې ښوونځي ته پرېږدي.چې تعلیم وکړي. د پوهنې رئیس د سیمې اوسېدونکو مسوولیت وګاڼه، چې د پرانیستل شوي ښوونځي ساتنه وکړي او د خپلو اولادونو راتلونکی له تیاره وباسي. په لوګر کې دا مهال د نجونو او هلکانو ۲۷۳ ښوونځي شته، چې ټول د نجونو او هلکانو پر مخ پرانیستي دي.

مسوول مدیر: محمد نسیم "عیاذ"
کتنپلاوي: معراج زماني- استاد ګل رحمان رحمان
عبدالصبور غفراني - محمد اکرم وفادار
خبریال: - محمد اشرف رسولي
کمپوز و دیزاین بریالی رحمانزی
شمیر: ۵۰۰۰
دیجیتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)
ایمیل: marif.newspaper.moe@gmail.com
پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت